# هر څه زمونږ په خیر کیږي

په یوه کلي کې یو بزګر اوسیده، یوه ورځ د بزګر پسه غلا شو. کله چې ګاونډیان خبر شول نو د بزګر کره راغلل او غله ته یې ښیرې شروع کړې. ولی بزګر هغوی ته وویل: هر څه زمونږ په خیر کیږي ښیرې مه کوئ. څو ورځې وروسته هغه غل ګیر شو او د بزګر له پسه سره یې یو ښایسته آس هم بزګر ته ورکړل. ګاونډیان بیا خبر شول او راغلل د بزګر د قسمت او چانس ستاینه یې شروع کړه خو بزګر بیا هم همدا وویل چې هر څه زمونږ په خیر کیږي.

څو ورځې وروسته د بزګر ښایسته آس وتښتیدو نو بیا یې ګاونډیان را ټول شول او د بزګر د اطمینان لپاره یې خبرې کولې او بزګر بیا هم همدا ویل چې هر څه زمونږ په خیر کیږي، په همدغه کې به زما خیر وي.

دوه ورځې وروسته هغه آس راستون شو او ګوري چې دوه نور وحشي آسان یې له ځان سره را وستلي دي. بزګر ډیر خوشحاله شو خو بیا یې هم همدا ویل چې هر څه زمونږ په خیر کیږي.

څو ورځې وروسته د بزګر زوی چې پر نوي آس سپور وو را وغورځیدو او پښه یې ماته شوه، ګاونډیان را ټول شول او د بزګر د بد قسمتی خبرې یې کولی خو بزګر بیا هم هغوی ته وویل چې هر څه زمونږ په خیر کیږي.

څو اونۍ وروسته د پاچا پوځیان کلي ته راغلل او ټول تکړه ځوانان یې د نوي جنګ لپاره بوتلل خو د بزګر زوی چې پښه یې ماته وه پاتې شو. او بزګر خپل زوی ته وویل: زما زویه، همیش په یاد لره چې هر څه زمونږ په خیر کیږي.

ډیر وخت کله چې پر مونږ لږ سختي او مشکلات راشي نو حالت مو ډیر خراب شي او خپل بد قسمت ملامتوو او یا پټه پر بل څه ور اچوو. دا سمه نه ده. په هر کار او هر څه چې زمونږ سره کیږي زمونږ په خیر کیږی، شاید په هغه حالت کې مونږ پوه نه شو او ډیر بد حالت راته ښکاره شي. مګر شاید همدغه زمونږ لپاهر بهتر او زمونږ په خیر وي.

# د کیسی لاربنود

لیکوونکی : ?

انګریزی نوم : Everything Happens For a Reason

ډول : فولکلور

لومړنی چاپ / نشر : ?

ژباړونکي : محمد عاصم شفیقي (پښتو)

نیټه : قوس ، ۱۳۹۳